# په بیعه باندې د غبن فاحش اغېزه

علمي – څېړنیزه مقاله



**م. محمد صادق حنیف**

کال: ۱۴۰۲ لمریز

بسم الله الرحمن الرحيم

## ډالۍ

په لومړي سر کې دا څېړنه د بشريت ستر لارښود، سرور کائنات محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته ډالۍ کوم او په دويم قدم کې خپلې مور ته او بيا په ځانګړې توګه خپل د پوهې سمندر پلار ته ډالۍ کوم چې له ما سره يې آن له ماشومتوبه تر دې دمه زيار او کوښښ ايستلی دی، وروسته يې خپلو ټولو استاذانو او په ځانګړې توګه خپل مشفق او زيارکښ استاذ پوهندوی دکتور مفتي محمدولي حنيف ته ډالي کوم چې له ما سره يې په دې څېړنه کې حتی الوسع زيار ايستلی دی. او په پای کې يې د پوهې او علم ټولو مينه والو ته ډالۍ کوم.

## شکر او مننه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين، وبعد: زه د الله تعالی ډېر شکر ادا کوم چې ما ته يې د دې څېړنې په بشپړولو کې توفيق راکړ، د الله تعالی د شکر ادا کولو وروسته له پوهندوی دوکتور مفتي محمد ولي حنيف څخه مننه کوم چې په دې مقاله کې يې راته لازمې لارښوونې وکړې او ما ته يې د خپل قيمتي وخت په صرف کولو سره ارزښتناکې مشورې راکړې ، له الله تعالی څخه هيله من يم چې زما دغه زيار او کوښښ بې ثوابه پاتې نه شي او دکتور صاحب ته هم له خپل عالي دربار څخه په اجرونو ورکولو سربېره په علم او پوهه کې برکت واچوي او عمر يې اوږد کړي.

**لنډیز:**

په عقودو کې یعنې په پلور او پېر کې د خیار د مشروعیت حکم د دې لپاره منځ ته راغلی چې له متعاقدَینو یعنې بائع او مشتري څخه ضرر لرې کړي او هغه ضررونه چې شریعت یې د لرې کولو لپاره دا حکم مشروع کړی د هغې له جملې څخه یو یې د غبن فاحش ضرر دی، دا هغه ستونزه ده چې پلورونکی یا پیرودونکی د اجناسو څخه په داسې ډول زیانمن کوي چې دا زیان له سوداګریزو دودونو څخه تېری کوونکی وي، او په پلور او پېر کې د متعاقدَینو د واقعي رضایت د شتون مخه نیسي.

د غبن په اندازه کې به سوداګریزو دودونو او د تجارت پوهانو لخوا جوړ شویو سوداګریزو قوانین ته رجوع کېږي؛ ځکه چې شریعت چې د کوم شي اندازه نه وي ټاکلې د هغه د ټاکنې لپاره به عرف او عادت ته رجوع کېږي او له همدې مخې به پرې حکم کېږي، هرکله چې غبن لږ وي په بیعه باندې کومه اغېزه نه کوي؛ ځکه چې د مسلمانانو معاملات له دې څخه ډېری وخت خالي نه وي، خو هر کله چې غبن فاحش و نو دا غبن بیا حرام بلل کېږي؛ ځکه چې په دې کې له بائع یا مشتري سره ظلم او دوکه ترسره کېږي، په دې صورت کې مغبون شخص دا اختیار لري چې دا بیعه بېرته فسخه کړي.

په دې څېړنه کې د غبن په ډولونو او په بیعه کې د غبن فاحش په اغېزه باندې رڼا اچول شوې چې له کبله یې مشتري یا بائع لره د بیعې د فسخ کولو اختیار ثابتېږي او په هغو ډولونو یې خبرې شوی چې پخوانیو فقهاء کرامو ترې هم یادونه کړې ده، لکه څنګه چې په دې موضوع کې له هغو ډولونو څخه هم بحث کېږي چې له مغبون شخص څخه د بیعې د فسخ کولو اختیار له منځه وړي.

**ملخص البحث:**

إن من الحكم الظاهرة في مشروعية الخيار في البيع إزالة الضرر عن المتعاقدين، ومن الضرر الذي جاء الشرع بإزالته وجود الغبن في العقد؛ وذلك بأن يغبن البائع أو المشتري في السلعة غبنا يخرج عن العادة، مما يمنع وجود حقيقة الرضى في البيع.

ويرجع في تحديد الغبن إلى العرف وتقدير أهل الخبرة كالتجار ونحوهم؛ لأن كل ما لم يأت تقديره من الشرع فالمرجع في تحديده إلى العرف والعادة، فإذا كان الغبن يسيرا فلا يؤثر في صحة المعاملة؛ لأن معاملات المسلمين لا تخلو منه في الغالب، أما إذا كان الغبن فاحشاً فإنّ الغبن محرم؛ لأن فيه ظلماً وتغريراً للمشتري، ويثبت للمغبون الخيار في الرجوع في العقد.

وقد أوضح البحث صور الغبن التي يثبت بها الخيار، واهتم بالصور المعاصرة التي تلحق بما ذكره الفقهاء المتقدمون، كما بين البحث الصور التي يسقط فيها خيار الغبن.

# سریزه

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله صلى الله عليه وسلم وعلى آله وصحبه ومن ولاه. ثم أما بعد.

له هغه وخته چې انسانان په دې دنيا کې اوسېږي، له يو بل سره ډول ډول معاملې ترسره کوي، چې ځينې يې مالي چارو پورې تړلي دي لکه پېر او پلور، کار او مزدوري او ځينې يې غير مالي مسايل دي لکه نکاح، طلاق او داسې نور. په مالي چارو کې زياتره خلک له تجارت سره تړاو پيدا کوي، څوک دايمي تجارت کوي او څوک د اړتيا په وخت کې سوداګري کوي. نن ورځ په نړۍ کې د تجارت ګڼ ډولونه عام شوي دي او ورځ تربلې ډول ډول تجارتونه منځ ته راځي. که يو مسلمان له خپل اسلامي قوانينو او د سوداګرۍ او تجارت له شرعي او دوديزو احکامو خبر وي نو د داسې تجارت له کولو څخه به ځان خلاص کړي چې په هغه کې ورته مالي تاوان وي او يا يې ګټه په خطر کې وي، او يا هم بل مسلمان ته زيان رسوونکی وي.

او کله داسې هم کېدلی شي چې يو انسان د خپل ظاهري نفعې په لټه کې وي، پرته له دې چې د روا او ناروا، حرام او حلال، حق او باطل په اړه فکر وکړي، د خپلې سوداګرۍ چارې مخ ته وړي او دا پروا يې هم نه وي چې حلاله سوداګري کوي که حرامه؟ په هر حال کې يوازې د مال د راټولولو په فکر کې وي، انساني دودونه، شرعي احکام او اخلاقي ارزښتونه يې په وړاندې هيڅ اهميت نه لري، په دې صورت کې د نورو مسلمانانو ګټه په خطر کې لوېږي او مالي زيانونه ورته رسېږي چې دا د اسلام د شرعي مقاصدو يو خلاف عمل دی. اسلامي شريعت په خپلو ټولو اړخونو کې د دين، عقل، روح، نسب او د مال په ساتلو سره د انساني ژوند د پرمختګ لپاره کار کړی او کوي يې، د شريعت له مقاصدو څخه يو هم د مال ساتنه او له روا لارې د دې لاسته راوړل دي، شريعت د مالي معاملاتو لپاره مشروعې لارې چارې وړاندې کړي چې د هغو له جملې څخه بيعه او سوداګري هم يوه تر ټولو غوره لاره بلل کېږي، نو له دې کبله چې په دغه لاره کې مسلمان د حرامو او ناروا مرتکب نه شي شريعت د بيعې د عقدونو د ترسره کولو څرنګوالی، د ګټې او نفعې ځانګړې لارې چارې ټاکلې دي چې هر مسلمان په دې مکلف دی چې د هغې پيروي وکړي، او د سرغړونې په صورت کې د شريعت له قانوني چلند سره مخ کېږي.

دغه مقصد ته د رسېدو لپاره اسلامي شريعت د يوې لويې ستونزې څخه چې په مالي برخه کې رامنځته کېږي د ځان ساتنې خبرداری ورکړی، چې هغه ستونزه په بيعه کې غبن فاحش دی او د شريعت له مخې دا کار حرام دی. الله تعالى فرمايي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ**). النساء/ 29. (اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، خپل مالونه په خپل منځ کې په ناحقه مه خورئ).

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا.[1] چا چې مونږ سره دوکه وکړه، هغه له مونږ څخه نه دی.

[1]. صحيح مسلم:.ج 1 ص 169 رقم الحديث:294. الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم. المؤلف : أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري. الناشر : دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة ـ بيروت. عدد الأجزاء : ثمانية أجزاء في أربع مجلدات. (ب – ت)

په دې مقاله کې د غبن پېژندنه، د دې ډولونه، شرعي حکم يې، په بيعه باندې د دې غبزې او د دې فقهي او قانوني اړخ ته کتنه شوې.

## د موضوع اهميت:

په دې موضوع کې د غبن پېژندنه او د غبن فاحش او همداراز په بيعه باندې يې اغېزه د شريعت او د فقهاء کرامو د اقوالو په رڼا کې بيانېږي چې د دې زده کړې او له دې څخه ځان خبرول د سوداګرو او تجارت پېشه خلکو لپاره او د هغو خلکو لپاره چې روزمره له خلکو سره مالي تعامل کوي، خورا اړينه موضوع ده.

ټولو مسلمانانو لپاره او بيا په ځانګړې توګه سوداګرو او تجارت پېشه خلکو لره پکار دي چې د عقودو په فقهې احکامو وپوهېږي او خصوصا د غبن فاحش په احکامو او د دې په معاصرو ډولونو ځان خبر کړي ترڅو خپل ځان او مال او د بل مسلمان ځان او مال له ضرر او ضرار څخه وساتي.

## د اختيار سبب:

په دې موضوع کې په پښتو ژبه باندې بشپړه ليکنه نه وه شوې، هغه ليکنې چې په عربي او دري ژبو شوې وې هغه هم په دې اندازه نه وې چې عامو پښتنو لپاره د ګټې وړ وي، نو له همدې امله مې وغوښتل چې په دې موضوع کې په کره پښتو بشپړه ليکنه وکړم، ترڅو د سوداګرو او تجارت پېشه خلکو د پام وړ وګرځي.

د هېواد په بازارونو کې د غبن فاحش د ډېرېدو او د مسلمان ورور د زيانمن کېدو درد دې ته اړ کړم چې دا موضوع د فقهي احکامو په رڼا کې وڅېړم.

## د موضوع موخه:

د غبن فاحش اړوند فقهي احکامو پېژندل او په بيعه باندې د دې اغېزه بيانول.

د غبن فاحش يو شمېر ډولونه د فقهاء کرامو له نظره بيانول او له امله يې د بيعې د فسخ کولو حکم څرګندول.

د غبن فاحش له امله رامنځته کېدونکې ستونزې او زيانونه په ګوته کول او مسلمانانو ته له دې څخه د ځان ساتنې توصيه کول.

## د موضوع اړوند پوښتنې:

په دې مقاله کې دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړل شوي دي:

1. د غبن فاحش تعريف څه شی دی؟
2. ترکومه اندازه غبن ته فاحش ويلی شو؟ اوپه دې اړه د فقهاء کرامو څه نظر دی؟
3. غبن که د بائع لخوا وي او که يا د مشتري لخوا، د دوکې ورکولو له امله وي او که له دې پرته کوم بل لامل ولري، په بيعه باندې کومې اغېزې غورځولی شي؟

4. آیا شریعت په داسې صورت کې چې په بیعه کې غبن فاحش ترسره شوی وي د فسخه کولو اجازه ورکوي او که نه؟

## د موضوع شالید:

له ډېرې پلټنې وروسته مې هم ونه شو کولای چې په دې موضوع کې بشپړه لیکنه پیدا کړم، خو سره له دې مې یو شمېر داسې عربي لیکنې ترلاسه کړې چې د دې موضوع یو شمېر اړخونو ته یې کتنه کړې وه، چې د هغې له جملې څخه یې دلته له یو څو مهمو لیکنو یادونه کوم:

1. الغبن الیسیر والغبن الفاحش، لیکونکی: **محمد بن ابراهیم السحیباني** دی چې د سعودي عربستان د – جامعة الملك – په مجله کې په ۱۸م ټوک ۲مه شمېره کې په ۴۰م مخ کې یې دا موضوع لیکلې ده.

2. الغبن في العقود، لیکونکی: **علي الخفیف** دی چې د مصر منیا پوهنتون اړوند – البحوث والدراسات العربیة – مجلې په ۱۵م مخ کې دا موضوع لیکلې ده.

3. خیار الغبن دراسة مقارنة بین الفقه الإسلامي والقانون المدني العراقي، لیکونکی: **ایناس مکي عبد نصار** دی چې دغه موضوع یې د عراق د بابل پوهنتون په -العلوم الإنسانیة – ۱۱مه شمېره مجله کې په ۱۵م مخ کې یې دا موضوع لیکلې ده.

4. خیار الغبن في المعاوضات المالیة، لیکونکی: **علي بن عبد الرحمن عبد الله الحسون** دی چې د مصر په منیا پوهنتون کې د دار العلوم پوهنځی اړوند – الدراسات العربیة – مجله کې په دویم ټوک په ۷مه شمېره کې په ۳٦م مخ کې لیکلې ده.

دا ټولې لیکنې داسې وې چې په کې د دې موضوع د اهمیت په بیانولو سربېره ډېر تمرکز په قانوني او اقتصادي اړخ شوی و، او په فقهي اړخ کې ورته زیاته کتنه نه وه شوې، او په بازارونو کې د رائجو غبنونو یادونه په کې هم کمه برېښېدله، نو له همدې امله مې یوه داسې لیکنه وکړه چې د فقهي احکامو له نظره هم دا موضوع بشپړه وڅېړل شي او د فقهاء کرامو نظرونه په کې هم مناقشه کړل شي او راجح قول د لوستونکو په وړاندې کېښودل شي.

## د څېړنې مېتود:

د دې څېړنې مېتود توصیفي، تحلیلي او کتابتوني دی او له ګڼو مأخذونو څخه په دې مقاله کې ګټه اخېستل شوې چې په لاندې توګه منهج مې په کې کارولی دی:

د قرآن کریم له آیاتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له احادیثو څخه مې په دې مقاله کې استدلال کړی.

له ګڼو فقهي مذابو څخه مې معتبر مذهبونه غوره کړي.

د مذاهبو له کتابونو څخه د هغوی اقوال او د معاصرو فقهاو هغه نظرونه او ویناوې مې ذکر کړي چې په دې موضوع کې یې بحث کړی.

لومړی مې د فقهاء کرامو نظرونه بیان کړي او بیا مې له دوی څخه راجح قول ذکر کړی.

په پایله کې مې یاده موضوع د ځو مهمو کرښو په بڼه راغونډه کړې ده.

### د څېړنې طرحه:

دا څېړنه په لنډیز باندې پیل شوی او لاندې مطالب په کې ذکر شوي دي:

**سریزه**: په دې کې د موضوع اهمیت، د موضوع د اختیارولو سبب، د موضوع موخه، د موضوع شالید، د څېړنې مېتود او د څېړنې طرحه بیان شوې ده.

لومړی مبحث: د غبن پېژندنه په کې بیان شوې او په دې مبحث کې څلور مطلبونه دي:

لومړی مطلب: د غبن لغوي او اصطلاحي معنی.

دویم مطلب: د غبن ډولونه، په دې کې دوه مسئلې دي:

لومړۍ مسئله: غبن یسیر

دویمه مسئله: غبن فاحش

دریم مطلب: د غبن فاحش ډولونه.

څلورم مطلب: د غبن فاحش اندازه.

دویم مبحث: په دې مبحث کې د غبن حکم او په بیعه باندې یې اغېزې بیان شوي دي، دا مبحث دوه مطلبونه لري:

لومړی مطلب: د شریعت له نظره د غبن حکم.

دویم مطلب: په بیعه باندې د غبن فاحش اغېزه، په دې مطلب کې دوه مسئلې دي:

لومړۍ مسئله: د غبن فاحش له امله د بیعې د رد کولو حکم.

دویمه مسئله: بازار ته راتلونکو خلکو څخه په لاره کې د مبیعې د اخېستلو حکم.

د موضوع په پای کې یې پایله راوړل شوې ده چې دا موضوع په لنډو ټکو کې خلاصه کوي.

او په وروستۍ برخه کې یې مهم مصادر او مأخذونه راوړل شوي دي.

## لومړی مبحث: د غبن پېژندنه

### لومړی مطلب: د غبن لغوي او اصطلاحي معنی:

**غبن** په لغت کې نقصان او زیان ته وایي، لکه عربي مقوله ده چې غبن الرجل في بیعه، یو سړي په خپله بیعه کې نقصان او زیان وکړ. [2]

**مغبون**: هغه چا ته ویل کېږي چې بیعه کې ورته د غبن له کبله نقصان او زیان رسېدلی وي.

**غابن**: هغه چا ته ویل کېږي چې په بیعه کې یې خپل جانب مقابل ته د غبن له کبله زیان رسولی وي، یعنې غبن کوونکي ته غابن ویل کېږي.

په اصطلاح کې د غبن د تعریف دا دی چې یو شی له خپل اصلي ارزښت څخه په لوړه بیه خرڅ شي.

### دویم مطلب: د غبن ډولونه

یو ډول ته یې غبن یسیر وایي او بل ته یې غبن فاحش وایي.

### لومړۍ مسئله: غبن یسیر

فقهاء کرام دواړو لپاره مختلف تعریفونه لري، احناف وایي: غبن یسیر هغه دی چې د ارزوونکو د ارزونې لاندې راځي. غبن یسیر په بیع باندې کوم اثر نه کوي له همدې امله په فقه کې د هغه په اړه زیات بحث نه دی شوی.

### دویمه مسئله: غبن فاحش

علامه الفیومي رحمه الله د غبن تعریف داسې کړی: غبن فاحش دې ته وایي چې یو جنس له خپل عادي حالت څخه په څو برابره لوړه بیه خرڅ شي. [3]

---

[2] . معجم مقاییس اللغة، لابن فارس، 4/ 411. 2. القزویني، أحمد بن فارس بن زکریاء الرازي، أبو الحسین. معجم مقاییس اللغة، دار الفکر. عام النشر: ١٣٩٩هـ - ١٩٧٩م.عدد الأجزاء: ٦.

[3] . مصباح المنیر فی غریب الشرح الکبیر، الفیومي، 2/ 436. 3. الفیومي، أحمد بن محمد بن علي، المصباح المنیر فی غریب الشرح الکبیر. المکتبة العلمیة – بیروت. ج 2، ص 436. وهو عالم لغوي وخطیب وفقیه. شافعي المذهب

علامه علي الخفيف رحمه الله فرمايي: غبن فاحش دې ته وايي چې په مالي معاوضه کې له دوو بدلَينو څخه يو يې په خپل ارزښت کې له بل سره برابر نه وي، لکه چې يوه مبيعه يې په دوه زره (افغانۍ) پېرودلې وي او په بازار کې يې ارزښت يو زر (افغانۍ) وي.[4]

علامه ابن عابدين شامي رحمه الله فرمايي: يو جنس په داسې لوړه بيه خرڅ شي چې د ارزوونکو تر ارزونې لاندې نه راځي دا غبن فاحش بلل کېږي. [5]

د افغانستان په مدني قانون کې په 571 ماده دويمه فقره کې راغلي: غبن ته هغه وخت فاحش ويل کېږي چې د عقد په وخت کې د مال د حقيقي قيمت او د هغه قيمت ترمنځ چې مال پرې خرڅ شوی ۱۵سلنه يا تر هغې څخه زيات توپير ولري.

پورته تعريفونو ته په کتو سره زه دې پايلې ته ورسېدم چې غبن داسې تعريف کړم:

"د پلورونکي يا پيرودونکي يعنې د بايع يا مشتري په حق کې مالي تاوان يا مالي نقصان ته غبن فاحش وايي" او د دې دليل د پلورونکي او پيرودونکي د دواړو د تجربې نشتوالی دی، ځکه چې دا په بيعه کې له هغو شرعي احکامو، سوداګريزو دودونو او قوانينو څخه تېری دی کوم چې د شريعت له خوا ټاکل شوي وي او يا د تجارت پوهانو او تجربه لرونکو اشخاصو لخوا ټاکل کېږي.

غبن فاحش هم په خپل منځ کې په دوه برخو باندې وېشل کېږي ، چې بشپړ تفصيل يې په لاندې توګه دی:

## دريم مطلب: د غبن فاحش ډولونه

غبن فاحش په دوه ډوله دی:

1. يو هغه دی چې د دوکې او فريب له امله منځته راغلی وي، دا ډول غبن د فقهاء کرامو په اتفاق سره حرام دی، چې يو څوک د قيمت او ارزښت څخه خبر نه وي او په دوکه پرې د بائع له خوا په لوړ قيمت څه شی وپلورل شي او يا د مشتري لخوا له پلورونکي څخه په ټيټ قيمت يو شي وپېرل شي، دا د بل مال په حرامه خوړل دي او په دې اړه الله تعالی فرمايي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ ای مؤمنانو! تاسې په خپلو منځو کې د يوبل مالونه په باطله طريقه مه خورئ. او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا.[6]
2. بل ډول غبن هغه دی چې په پوهه او رضا ترسره شوی وي، په دې اړه باندې جمهور فقهاء کرام داسې وايي چې د قيمت په لوړ والي او ټيټ والي او د اسعارو پورته کېدو او ښکته کېدو که غبن وشي دا په هغه صورت کې جواز لري چې دواړه متعاقدين يعنې پلورونکی او پېرودونکی د خپل کار څښتنان وي يعنې د بل لخوا په

[4] .علي الخفيف، مختصر أحكام المعاملات الشرعية، القاهرة 1949، ص 148/ 149. عالم وقاض وباحث لغوي مصري

[5] . حشية ابن عابدين ١/ ٢٥١. الدمشقي، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين. الشهير بابن عابدين (ت١٢٥٢هـ) حشية رد المحتار على الدر المختار. دار الفكر للطباعة والنشر. ط: 1421هـ - 2000م. مكان النشر : بيروت. عدد الأجزاء : 8.

[6] . مسلم: رقم الحديث: 294.

پلور او پېر مامور نه وي او دغه غبن د مغبون شخص په رضا ترسره شوی وي، په داسې صورت کې چې په غبن ښه خبر هم وي خو بیا هم ورباندې خوشحال وي او معامله یې په خپله خوښه ترسره کړې وي نو په دې حالت کې دی مأجور دی او د الله تعالی لخوا د ثواب مستحق ګرځي؛ ځکه چې یو نېک کار یې ترسره کړی او له یو انسان سره یې ښېګڼه کړې ده.[7]

او علامه نووي رحمه الله فرمايي: "مجرد الغبن، لا يثبت الخيار وإن تفاحش. ولو اشترى زجاجة بثمن كثير يتوهمها جوهرة، فلا خيار له، ولا نظر إلى ما يلحقه من الغبن؛ لأن التقصير منه حيث لم يراجع أهل الخبرة". یوازې غبن خیار نه شي ثابتولی اګر چې فاحش غبن هم وي. که چېرته یو سړي یوه شیشه واخیسته په دې ګمان سره چې دا جوهر دی، نو ده لره خیار نشته او نه هغه څه ته کتل کېږي کوم چې غبن پورې تړلي دي، ځکه چې ملامت خپله همدا اخستونکی دی چې ولې یې تجربه لرونکو خلکو سره مشوره نه وه کړې.[8]

### څلورم مطلب: د غبن فاحش اندازه

غبن یسیر او یا هغه غبن چې لږ دی، هغه د ښښني وړ دی ځکه چې له هغې څخه د بیعې معاملات خلاصېدی نه شي، خو کوم چې زیات غبن یعنې غبن فاحش دی هغه د عرف او عادت له مخې پېژندل کېدی شي، په دې اړه د حنفي مذهب فقهاء کرام وايي: هغه چې د سوداګری برخې د متخصصینو او تجربه لرونکو تر ارزونې لاندې راځي هغه غبن فاحش نه دی او کوم چې د دې قانون څخه تېری وکړي هغه فاحش غبن شمېرل کېږي، لکه یو جنس په لس افغانۍ خرڅ کړای شي، بیا چې کله د ارزوونکو لخوا اندازه شي هغه باید په نهه یا اته افغانۍ خرڅ شوی وای، نو دغې ته لږ غبن وايي. او فاحش غبن مثال دا دی چې یو جنس په لس افغانۍ خرڅ شوی وي خو کله چې د ارزوونکو لخوا اندازه شي هغه په پنځه افغانۍ د خرڅولو جوګه وي، نو دې ته غبن فاحش ویل کېږي. ځکه چې دا قیمت د هغې اندازې لاندې نه دی راغلی کوم چې تجربه لرونکو سوداګرو او یا ارزوونکو اټکل کړی دی.

خو مجلة الأحكام العدلية په (١٦٥) ماده کې د نصر بن یحیی هل نظره غبن داسې اندازه کوي چې په عروضو او رختونو کې پنځه سلنه (5٪) ګټه وکړي او په څارویو کې لس سلنه (10٪) او په ځمکه او جایدادونو کې شل سلنه (20٪) او یا له دې اندازې څخه زیاته ګټه وي هغه غبن بلل کېږي.[9]

د غبن په اندازه کې فقهاء کرام مختلف نظرونه لري چې هغه ټول یې دلته په درې برخو وېشو:

**لومړی نظر**: احناف په دې نظر دي چې د ارزوونکو د ارزونې لاندې نه راځي هغه غبن بلل کېږي.

---

[7]. المغني (497/3) مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج. المؤلف: شمس الدين، محمد بن محمد، الخطيب الشربيني [ت ٩٧٧ هـ]. حققه وعَلّق عليه: علي محمد معوض - عادل أحمد عبد الموجود. الناشر: دار الكتب العلمية. الطبعة: الأولى، ١٤١٥ هـ - ١٩٩٤ م. عدد الأجزاء: ٦

[8] روضة الطالبين للنووي، 3/ 473.

[9]. الفقه الإسلامي وأدلته، 4/ 576. أ.د. وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ. بجامعة دمشق - كلّيَّة الشَّريعة. الناشر : دار الفكر - سوريَّة – دمشق. ط: الطَّبعة الرَّابعة. عدد الأجزاء : 10

**دويم نظر**: مالکيه او حنابله وايي کله چې د يو شي ګټه ثلث يعنې 33.33٪ ته ورسېږي نو هغه غبن فاحش بلل کېږي.

**دریم نظر**: مالکيه په يو بل نظر کې فرمايي چې له ثلث يعنې 33.33٪ څخه زيات شي.

**راجح قول**: په الموسوعة الفقهية کې وايي چې: احناف، مالکيه او حنابله ټول په دې خبره سره يو دي چې د غبن فاحش اندازه او پېژندنه د روزمره سوداګرۍ او تجارت په اساس اعتبار لري که څه هم په دې کې نظرونه او عبارتونه مختلف دي خو له ټولو څخه همدا يوه معنی مراد ده.[10]

## دويم مبحث: د غبن فاحش حکم او په بيعه يې اغېزې

### لومړی مطلب: د غبن حکم

غبن په اصل کې ممنوع دی او د شريعت له نظره حرام دی، الله تعالی فرمايي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ**). النساء/ 29. (اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، خپل مالونه په خپل منځ کې په ناحقه مه خورئ).

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: **مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا**.[11] چا چې مونږ سره دوکه وکړه، هغه له مونږ څخه نه دی.

ابن العربي رحمه الله فرمايي: **"الْغَبْنَ فِي الدُّنْيَا مَمْنُوعٌ بِإِجْمَاعٍ فِي حُكْمِ الدُّنْيَا؛ إذْ هُوَ مِنْ بَابِ الْخِدَاعِ الْمُحَرَّمِ شَرْعًا فِي كُلِّ مِلَّةٍ"**.[12] په دنيا کې غبن کول په اجماع سره حرام دی ځکه چې دا په هر دين کې د حرامې حيلې او دوکې له جملې څخه شمېرل کېږي.

### دويم مطلب: په بيعه باندې د غبن فاحش اغېزه:

د فقهاء کرامو په وړاندې هر غبن په بيع باندې اغېز کوونکی نه دی، ترڅو چې په کې دوکه نه وي شوې، خصوصا په هغه صورت کې چې بائع او مشتري د عقد اهليت ولري، ځکه چې اصل په عقد کې نافذ کېدل او ترسره کېدل د عقد دي. أحناف په ظاهر الرواية کې، شوافع او مالکيه په مشهورو روايتونو کې دا وايي چې يوازې غبن فاحش په بيعه باندې کومه اغېزه نه کوي، او د مبيعې مسترد کول هم نه لازموي.

---

[10] . الموسوعة الفقهية (20/ 150) وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت. عدد الأجزاء : 45 جزءا. الطبعة : ( من 1404 - 1427 هـ). الأجزاء 1 - 23 : الطبعة الثانية ، دارالسلاسل - الكويت. الأجزاء 24 - 38 : الطبعة الأولى ، مطابع دار الصفوة - مصر. الأجزاء 39 - 45 : الطبعة الثانية ، طبع الوزارة

[11] . صحيح مسلم:.ج1 ص169 رقم الحديث:294.

[12] . أحكام القرآن لابن العربي، 4/ 261] القاضي محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (ت ٥٤٣هـ). الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان. الطبعة: الثالثة، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م. عدد الأجزاء:٤

له احنافو څخه امام حصفکي رحمه الله فرمايي: په ظاهر الرواية کې يوازې غبن فاحش د مبيعې استرداد نه لازموي او په همدې باندې فتوا هم ده.[13]

له مالکيه علماو څخه علامه الدردير رحمه الله فرمايي: يوازې داسې غبن چې قيمت يې لوړ وي او يا بې اندازې ټيټ وي مبيعه نه مسترد کوي، آن که له عادت څخه هم خلاف وي.[14]

او له شوافعو څخه په روضة الطالبين کې راغلي چې: يوازې غبن د مبيعې د رد کولو خيار نه لازموي آن که فاحش هم وي، که چېرته يې يوه شيشه په دې آند په لوړ قيمت وپېرودله چې دا گوهر دی نو ده لره خيار نشته چې مبيعه بېرته رد کړي او نه دې ته کتل کېږي چې له ده سره غبن شوی دی؛ ځکه چې تقصير او کوتاهي د ده خپله ده چې ولې يې له باتجربه خلکو څخه پوښتنه نه کوله؟[15]

## دريم مطلب: هغه عقود چې غبن په کې له دوکې پرته هم اغېزه کولای شي:

يو شمېر عقود او تصرفات مالکيه و او احنافو استثناء بللي دي او ويلي يې دي چې دا ډول غبن په بيعه باندې اغېزه کولی شي که څه هم د دوکې او فريب په صورت کې نه وي ترسره شوی. چې هغه د پلار، نيکه، وصي، مضارب او د يو مشخص جنس د پېرلو لپاره د وکيل تصرف دی او د دوی لخوا د بيعې عقدونه دي، علامه ابن نجيم حنفي رحمه الله فرمايي: له وصي لخوا يو جنس وپېرل شي او په هغې کې ورسره غبن وشي نو په دې کې ورته لږ غبن د بښلو وړ دی خو که چېرته ورسره غبن فاحش شوی وي نو بيا يې بيعه رد کېږي.[16]

او علامه المواق المالکي رحمه الله د أبو عمر المالکي رحمه الله څخه همداسې مسئله نقل کړې ده چې يو څوک د بل چا لپاره په بيعه کې نائب وټاکل شي که هغه وکيل وي او که وصي وي، کله چې يو شی په غبن فاحش باندې وپلوري او يا يې وپېري چې دې ته په ورته معامله کې نور خلک غبن نه کوي نو دا بيعه يې بېرته مسترد کېږي.[17]

او د مجلة الأحکام العدلية په **۳۵٦**مه ماده کې راغلي: کله چې په بيع کې غبن فاحش وموندل شو او دوکه په کې نه وه شوې، نو مغبون شخص ته روا نه دي چې بيعه فسخ کړي، مگر په هغه صورت کې چې د يتيم په مال کې غبن ترسره شي نو بيا بيع نه ده صحيح شوې.

---

[13] . الدر المختار شرح تنوير الأبصار في فقه مذهب الإمام أبي حنيفة - (5 / 142). محمد علاء الدين بن علي الحصكفي (المتوفى : 1088هـ). الناشر : دار الفكر. سنة النشر : 1386. مكان النشر : بيروت. عدد الأجزاء : 6

[14] . الشرح الكبير للدردير: ج3 ص 140. أبو البركات أحمد بن محمد العدوي ،الشهير بالدردير (المتوفى : 1201هـ). دار الفكر. الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ. عدد الأجزاء:٤. (ترقيم الكتاب موافق للمطبوع). «الشرح الكبير للشيخ أحمد الدردير على مختصر خليل» بأعلى الصفحة

[15] . روضة الطالبين وعمدة المفتين - (3 / 470) المؤلف : أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى : 676هـ). الناشر : المكتب الإسلامي. سنة النشر : 1405. مكان النشر : بيروت. عدد الأجزاء : 12

[16] . البحر الرائق شرح كنز الدقائق (533 / 8) - المؤلف: زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري (ت ٩٧٠ هـ). الطبعة: الثانية. عدد الأجزاء:٨. تصوير: دار الكتاب الإسلامي (ب – ت)

[17] . التاج والإكليل لمختصر خليل : ج6 ص400. المؤلف: محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي، أبو عبد الله المواق المالكي (ت ٨٩٧هـ). الناشر: دار الكتب العلمية. الطبعة: الأولى، ١٤١٦هـ-١٩٩٤م. عدد الأجزاء: ٨

## لومړۍ مسئله: د غبن فاحش له امله د بیعې د رد کولو حکم:

جمهور فقهاء کرام وايي چې په غبن فاحش کې مغبون شخص هغه وخت د بیعې د رد کولو حق لري چې په بیعه کې ورسره دوکه شوې وي، یعنې یا یې ورته مبیعه له اصلي صفت څخه خلاف په بل ډول توصیف کړې وي او یا یې ورته له اصلي نرخ څخه په زیات قیمت د رانیولو دروغ ویلي وي.

په دې صورت کې مالکیه او حنابله دا نظر لري چې داسې کس لره چې د اجناسو په قیمت خبر نه وي، دا حق لري چې مبیعه بېرته مسترده کړي.

ابن قدامه رحمه الله فرمايي: کله چې یو مسترسل یعنې هغه کس چې په پېر او پلور سم نه پوهېږي، هغه بائع ته واستول شي چې یو جنس ترې وپلوري خو د اجناسو له نرخ څخه خبر نه وي او له ده سره داسې غبن وشي چې د عادت خلاف وي نو ده لره دا حق شته چې مبیعه بېرته رد کړي او یا همدا بیعه ترسره کړي. امام أحمد بن حنبل رحمه الله فرمايي: مسترسل هغه کس ته ویل کېږي چې په پېر او پلور سم نه پوهېږي او د یو چا په غبن کولو یې سره نه خلاصېږي، خو هغه چې په نرخونو پوهېږي او یا داسې یو څوک وي چې که چېرته په بازار کې تم شي او یا له بل چا پوښتنه وکړي نو بیا په نرخونو پوهېدای شي، دوی لره بیا دا حق نشته چې مبیعه بېرته مسترده کړي او بیعه رد کړي .[18]

نور داسې صورتونه هم شته چې فقهاء کرامو په هغې باندې دا حکم کړی چې دا ډول غبن په بیعه باندې اغېزه لرلی شي چې بېلګې یې په لاندې ډول دي:

## دویمه مسئله: بازار ته راتلونکو خلکو څخه په لاره کې د مبیعې د اخېستلو حکم:

بازار ته راتلونکو خلکو څخه په لاره کې د مال اخېستلو په اړه فقهاء کرامو داسې فرمايي چې که چېرته یو خریدار هغوی ته مخې ته ورغی او مال یې ورڅخه واخیست او دا خلک چې کله بازار ته راغلل یا له دې وړاندې ورته څرګنده شوه چې له دوی سره غبن شوی دی او په هغه نرخ ورسره معامله نه ده شوې کوم چې د بازار نرخ دی نو دوی دا اختیار لري چې فوراً دا بیعه رد کړي او خپل مال بېرته ترلاسه کړي، لکه څرنګه چې په خیار عیب کې رد کولی شي. خو که چېرته دغه خلک وغواړي چې خپل مال په هر قیمت چې وي ویې پلوري او یا ورته اصلي قیمت معلوم وي خو بیا یې هم په همدې ټیټ قیمت وپلوري نو په دې صورت کې په بیعه کومه اغېزه نه کوي او دوی د رد کولو حق نه لري.

په فتاوی شامي کې علامه ابن عابدين رحمه الله فرمايلي: أَمَّا فِي مَغْبُونٍ غُرَّ يَكُونُ لَهُ حَقُّ الرَّدِّ.[19] په هغه مغبون جنس کې چې دوکه ورسره شوې وي د رد کولو حق ورته شته. او همدې قول ته یې راحج قول ویلي دي.

---

[18] . المغني (3/ 497).

[19] . حاشية رد المختار على الدر المختار (143 / 5) -

او په مجلة الاحكام العدلية (356) مه ماده کې راغلي: إذَا وُجِدَ غَبَنٌ فَاحِشٌ فِي الْبَيْعِ وَلَمْ يُوجَدْ تَغْرِيرٌ ؛ فَلَيْسَ لِلْمَغْبُونِ أَنْ يَفْسَخَ الْبَيْعَ. کله چې په بيع کې فاحش غبن وموندل شي او دوکه ورسره ونه موندل شي؛ نو مغبون لره دا حق نشته چې بيع فسخه کړي.[20]

په مغني المحتاج کې راغلي: هرکله چې له دې سوداګرو سره غبن شوی و او په غبن باندې پوه شوي وو نو بيا دوی لره دا اختيار شته چې دا بيع رد کړي که څه هم ښار ته له راتګ څخه وړاندې وي په دې خبره باندې هغه حديث دليل دی چې امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې راوړی دی فرمايي: (**لَا تَلَقَّوْا السِّلَعَ حَتَّى يُهْبَطَ بِهَا إلَى السُّوقِ، فَمَنْ تَلَقَّاهَا فَصَاحِبُ السِّلْعَةِ بِالْخِيَارِ**) يعنې: مال تر هغه مه اخلئ تر څو چې بازار ته نه وي راښکته شوي، نو که چا واخيست د مال څښتن اختيار لري. او دا خيار سمدستي د اجرا قابل دی لکه څرنګه چې د عيب خيار سمدستي د اجرا قابل وي، نو که چېرته يې د بيعې د خرڅلاو غوښتنه وکړه سره له دې چې په نرخ باندې يې پوهه نه درلوده او يا پرته له غبن څخه بيعه ترسره شوې وه لکه په کليوالي نرخ يې ترې اخستې وي او بائع په دې باندې پوه وي نو په دې صورت کې بيا اختيار نه لري، ځکه چې کومه معنی مونږ وړاندې د غبن وکړه هغه دلته شتون نه لري، او همدا راز په هغه صورت کې هم د رد حق نه لري چې دوی کله ښار ته ننوتي وي اګر چې بازار ته هم نه وي رسېدلي ځکه چې په دې صورت کې ممکنه ده چې له خلکو څخه د نرخونو او اسعارو پوښتنه وکړي.[21]

کوم حديث چې علامه شربيني رحمه الله په مغني المحتاج کې له امام بخاري رحمه الله څخه راوړی دی، امام بخاري دغه حديث له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت کړی چې د حديث عبارت يې داسې ذکر کړی: (**لاَ يَبِيعُ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلاَ تَلَقَّوْا السِّلَعَ حَتَّى يُهْبَطَ بِهَا إِلَى السُّوقِ**)[22]. له تاسې څخه دې کوم کس د بل مسلمان د بيعې په جريان کې بيعه نه کوي، او له لارويانو سره د پلور او پېر معامله مه ترسره کوئ، مبيعه ترې مه رانيسئ، تر هغې چې ښار يې ته راښکته کړي. دا حديث امام بخاري رحمه الله له زيادت پرته ذکر کړی او دا زيادت په صحيح البخاري کې نشته، خو د دې حديث بالمعنى اصل په صحيح مسلم کې شتون لري چې امام مسلم رحمه الله ذکر کړی: (**لَا تَلَقَّوْا الْجَلَبَ، فَمَنْ تَلَقَّاهُ فَاشْتَرَى مِنْهُ، فَإِذَا أَتَى سَيِّدُهُ السُّوقَ، فَهُوَ بِالْخِيَارِ**)[23]. تاسې له لارويانو سره د پلور او پېر معامله مه ترسره کوئ، که چا له هغو سره داسې معامله وکړه او کوم جنس يې ترې واخست، کله چې له هغو څخه کوم مشر ښار ته راغی نو بيا اختيار لري چې بيعه ترسره کړي او يا يې رد کړي.

---

[20] . مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ. مادة: 356. المؤلف : لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية. الناشر : نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ،كراتشي. الطبعة : لعلها مصور عن طبعة قديمة. عدد الأجزاء : 1

[21] . مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج. ج 2، ص 390.

[22] . صحيح البخاري: رقم الحديث: 2165.

[23] . صحيح مسلم: رقم الحديث: 1412، 1517.

## پایــــــــــله

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه أجمعين، وبعد: له دې څېړنې وروسته لاندې څو مهمو پایلو ته رسېږو چې:

1. د غبن فاحش اندازه تر ډېره د سوداګرو او تجارت پوهانو او اهل خبره کسانو له نظره اندازه کېږي؛ ځکه چې د کوم شي اندازه چې په شریعت کې ونه موندل شي نو د عرف او عادت له مخې اندازه کېږي.

2. هرکله چې غبن لږ وي یعنې غبن یسیر وي د بیعې په معامله باندې کومه اغېزه نه کوي؛ ځکه چې د مسلمانانو روزمره معاملات له دې شي څخه نه شي ژغورل کېدای، خو هرکله چې غبن زیات وي یعنې غبن فاحش وي نو دا غبن بیا حرام دی؛ ځکه چې په دې له مشتري یا بائع سره ظلم او دوکه ترسره کېږي.

3. مغبون شخص هغه وخت د بیعې د رد کولو حق لري کله چې داسې ډول غبن ورسره ترسره شوی وي چې په خلکو کې رائج نه وي.

4. په لاره کې بازار ته راتلونکو خلکو څخه مبیعه اخستل روا دي؛ ځکه چې په حدیث مبارک کې بائع لره د رد کولو او یا ترسره کولو اختیار ورکړل شوی دی، او اختیار په صحیحو عقدونو کې وي. په داسې حالت کې چې له بائع سره غبن فاحش وشي نو هغه اختیار لري چې بیعه رد کړي.

5. پلار، نیکه، مضارب او وکیل سره که غبن فاحش شوی وي که څه هم دوکه په کې نه وي شوې، د بیعې د رد کولو حق لري.

## مأخذونه

القرآن الكريم


1. القشيري، مسلم بن الحجاج النيسابوري. الجامع الصحيح المسمى صحيح مسلم. الناشر : دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة ـ بيروت. عدد الأجزاء: ثمانية أجزاء في أربع مجلدات. (ب – ت).ج 1 ص 169 رقم الحديث:294.
2. القزويني، أحمد بن فارس بن زكرياء الرازي، أبو الحسين. معجم مقاييس اللغة، دار الفكر. عام النشر: ١٣٩٩هـ - ١٩٧٩م.عدد الأجزاء: ٦. ج 4، ص 411.
3. الفيومي، أحمد بن محمد بن علي، المصباح المنير فى غريب الشرح الكبير. المكتبة العلمية – بيروت. ج 2، ص 436.
4. الخفيف، علي محمد. مختصر أحكام المعاملات الشرعية. القاهرة 1949. ص 148/ 149.
5. الدمشقي، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين. الشهير بابن عابدين (ت ١٢٥٢هـ) حشية رد المحتار على الدر المختار. دار الفكر للطباعة والنشر. ط: 1421هـ - 2000م. مكان النشر : بيروت. عدد الأجزاء : 8. ج 1، ص 251.
6. مسلم: رقم الحديث: 294.
7. الشربيني، شمس الدين، محمد بن محمد، الخطيب [ت ٩٧٧ هـ]. مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج. حققه وعَلّق عليه: علي محمد معوض - عادل أحمد عبد الموجود. دار الكتب العلمية. الطبعة: الأولى، ١٤١٥ هـ - ١٩٩٤ م. عدد الأجزاء: ٦. ج 3 ، ص 497.
8. الزحيلي، أ.د. وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ. الفقه الإسلامي وأدلته. الناشر : دار الفكر - سوريَّة – دمشق. الطبعة : الطَّبعة الرَّابعة. عدد الأجزاء : 10. ج 4، ص 576.
9. وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت. الموسوعة الفقهية. عدد الأجزاء : 45 جزءا. الطبعة : ( من 1404 - 1427 هـ). الأجزاء 1 - 23 : الطبعة الثانية ، دارالسلاسل - الكويت. الأجزاء 24 - 38 : الطبعة الأولى ، مطابع دار الصفوة - مصر. الأجزاء 39 - 45 : الطبعة الثانية ، طبع الوزارة. ج 20 ، ص 150.
10. ابن العربي، محمد بن عبد الله أبو بكر بن العربي المعافري الاشبيلي المالكي (ت ٥٤٣هـ). أحكام القرآن لابن العربي. الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان. ط: الثالثة، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م. عدد الأجزاء:٤. ج 4، ص 261.
11. صحيح مسلم:.ج 1 ص 169 رقم الحديث:294.
12. الدر المختار شرح تنوير الأبصار - (5 / 142).

13. الدردير، أبو البركات أحمد بن محمد العدوي. (المتوفى : 1201هـ). الشرح الكبير للدردير. دار الفكر. الطبعة: بدون طبعة وبدون تاريخ. عدد الأجزاء:٤. «الشرح الكبير للشيخ أحمد الدردير على مختصر خليل» بأعلى الصفحة ج3 ص 140.
14. النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (المتوفى : 676هـ). روضة الطالبين وعمدة المفتين - المؤلف : الناشر : المكتب الإسلامي. سنة النشر : 1405. مكان النشر : بيروت. عدد الأجزاء : 12. ج 3 ، ص 470.
15. ابن نجيم المصري، زين الدين بن إبراهيم بن محمد(ت ٩٧٠ هـ). البحر الرائق شرح كنز الدقائق. الطبعة: الثانية. عدد الأجزاء:٨. تصوير: دار الكتاب الإسلامي (ب – ت) - ج8 ، ص 533.
16. المواق المالكي، محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي، أبو عبد الله(ت ٨٩٧هـ). التاج والإكليل لمختصر خليل. الناشر: دار الكتب العلمية. الطبعة: الأولى، ١٤١٦هـ-١٩٩٤م. عدد الأجزاء: ٨. ج6 ص400.
17. روضة الطالبين للنووي، 3/ 473.
18. المغني (3/ 497).
19. حاشية رد المختار على الدر المختار: 8 - ج5 ، ص 143.
20. مَجَلَّةُ الْأَحْكَامِ الْعَدْلِيَّةِ. مادة: 356. المؤلف : لجنة مكونة من عدة علماء وفقهاء في الخلافة العثمانية. الناشر : نور محمد، كارخانه تجارتِ كتب، آرام باغ،كراتشي. ط: لعلها مصور عن طبعة قديمة. عدد الأجزاء : 1
21. مغني المحتاج . ج 2، ص 390.
22. صحيح البخاري: رقم الحديث: 2165.
23. صحيح مسلم: رقم الحديث: 1412، 1517.
24. د افغانستان مدني قانون دويم ټوک 571 ماده دوېمه فقره.